مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر

۲۰۱۹/۱۲/۰۵

# د سولي پیغام

دا به بهار به انشـــاالله چې په ســـمون راځي
په هر ګوټ کې د وطن به، ستر بـدلون راځي

د بهـــبود زیـری احســـاس کړلو، دردمـــنو
چې تاریـخ د دي وطـن کې، اوښـــتون راځي

تیارې به لیري شي، هــر خــوا نه، د جـــهل
یـو ځل بیـا به دي چمن کې، ســباوون راځي

د مسیحـــا په ځیـر به یی ووینـــې، نـژدو کې
چي رهـبر به د نـجات او د خلاصـون راځي

لـه نا امیـده زړو بـــه ووځـــــي ، غمـــــونه
د غمـونو په کورګي، به شبیـــــخون راځي

د فـراق تیارې به ختمـــی شي، پـــه مونږ نور
رڼایـي بـه هر لـــــوري ، د ژوندون راځـي

نـــا آشـــنا دیـار دي، آســــــتازي، روان
ورسره پـیـغـام د ســولي، او ژوندون راځـي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ